يقينا د الله تعالى حق پر بنده ګانو دا دی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي او د بنده ګانو حق پر الله تعالى دا دی چې هغه چاته عذاب ورنکړي چې شرک يې ورسره نه وي کړی

له معاذ بن جبل - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې وايي: زه پيغمبر صلى الله عليه وسلم پسې شاته په هغه خره سپور وم چې عفير بلل کېده، نو ويې فرمايل: اې معاذه! آيا په بنده ګانو باندې د الله تعالى په حق پوهيږې، او دا چې بندګان په الله تعالى څه حق لري؟ ما وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: « يقينا د الله تعالى حق پر بنده ګانو دا دی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي او د بنده ګانو حق پر الله تعالى دا دی چې هغه چاته عذاب ورنکړي چې شرک يې ورسره نه وي کړی» نو ما وويل: اې د الله رسوله، آيا خلکو ته زيری ورنه کړم؟ هغه وفرمايل: نه، زيری مه ورکوه چې بيا به په همدې خبره تکيه وکړي.»
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى حق پر بنده ګانو او د بندګانو حق پر الله تعالى باندې بيانوي، او دا چې د الله تعالى حق پر بنده ګانو دا دی چې يوازې د هغه عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي. او دا چې د بنده ګانو حق پر الله تعالى دا دی چې هغو موحدينو ته عذاب ورنه کړي چې د هغه سره هيڅ شی نه شريکوي. بيا معاذ وويل: اې د الله رسوله! آيا خلکو ته - پدې خبره - زيری ورنه کړم تر څو خوشحاله شي او - د الله تعالى پدې فضل باندې - يو بل ته زيری ورکړي؟ نو پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - لدې ويرې منع کړ چې خلک به په همدې تکيه وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65007